هفته‌نامه آبادي اوونیزه
ABADI ONLINE WEEKLY
د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه
شنبه، د شعبان المعظم ۲۳ مه، ۱۴۴۵ هـ. ق کال
#۴۱
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت
د مطبوعاتو رياست

# سرليکنه




په دې وروستيو کې د افغانستان اسلامي امارت پلاوی ترکمنستان ته د سفر پرمهال د ياد هېواد له مسؤولينو سره په کتنه کې د افغانستان او ترکمنستان ترمنځ د يو لړ نورو سوداګريزو مسايلو ترڅنګ د لاجوردو لويې لارې په اړه خبرې وکړې. دواړو لورو پر دې ټينګار وکړ چې ددې لارې له نورو شريکو هېوادونو سره په همکارۍ دې پر داسې لارو چارو خبرې وشي چې د لاجوردو لارې د احيا کولو ګډ ستراتيژيک هدف ممکن کړي. د ترکمنستان د ترانسپورټ په چارو کې د وزيرانو شورا مرستيال وويل، د لاجوردو لار ډېره مهمه ده او اړتيا ده چې په دې اړه د افغانستان په ګډون د لاجوردو د مسير د پنځو هېوادونو ناسته ترسره شي.

د لاجوردو لاره يو لرغوني او د وخت له مهمو او مواصلاتي لارو څخه شمېرل کېده، په اصل کې دا لاره د وربښمو د لارې يو مسير دی. له دې لارې څخه به لاجورد او ځينې نورې قيمتي ډبرې اروپا، روسيې، بالکان، قفقاز او د افريقا شمال ته لېږدول کېدې. کله چې دا لرغوني سوداګريزه لاره ويجاړه شوه، نو افغانستان ته ډېرې صادرات د پاکستان د کراچۍ بندر له لارې کېدل، چې نسبتا اوږده او غير مصئونه لاره بلل کېږي. د لاجوردو لار چې د کراچۍ له بندر پرته افغانستان له اروپا، منځني ختيځ، افريقا، بالکان او ترکيې سره نښلوي، د افغانستان سوداګرۍ لپاره تر ټولو لنډه، ډاډمنه، ارزانه او خوندي لار ده. ددې لارې اصلي شريکان افغانستان، ترکمنستان، اذربايجان او جورجيا هېوادونه دي، خو ترکيه هم غواړي چې په دې پروژه کې شريکه شي او د اسيايي هېوادونو ترڅنګ له دې لارې له سويلي اسيا سره هم ځان ونښلوي.

د اسلامي امارت هڅه داده چې د سوداګرۍ له پاره بديلې لارې پيدا کړي. د لاجوردو لار يوه له دغو لارو څخه ده او کولای شي افغانستان له اسيا، اروپا او افريقا سره ونښلوي او د دغو لويو وچو هېوادونو اقتصاد يو له بل سره غوټه او ګټې يې سره شريکې کړي. ددې لارې په رغولو سره به د افغانستان اسلامي امارت وکولای شي چې نوي اقتصادي فرصتونه رامنځته او ورسره به نړيوال پانګوال وهڅوي، ترڅو په بېلا بېلو برخو په ځانګړي ډول د کانونو په برخه کې پانګونه وکړي او افغانستان د اقتصاد يوه نوي پړاو ته ورننوځي. بله دا چې افغانستان يو کرنيز هېواد دی او ددې لارې په جوړېدو به د افغانستان کرنيز محصولات تر نړيوالو مارکيټونو پورې ورسېږي. دا کار به له يوه لوري سوداګرې پراخه او له بل لوري به د افغان بزګرانو اقتصادي حالت ښه شي. د اسلامي امارت له پاره به ددې زمينه برابره شي چې د مالياتو په اخيستلو سره د افغانستان د ملي عوايدو کچه لوړه کړي. دا ټول هغه څه دي چې کولای شي د يوه هېواد اقتصاد پياوړی او پر خپلو پښو ودروي.

## ملي تدارکاتو کمېسيون د شاوخوا ۸ ميلياره افغانيو په ارزښت بېلابېلې پروژې منظورې کړې



۲ مه صفحه

## مشـــاور معاون اقتصادی رياست الوزراء بـــا نمايندگان اتاق اصناف ملاقات نمود



۳ مه صفحه

## د لاجوردو لارې اقتصادي ارزښت ته ځغلنده کتنه




۴ مه صفحه

# ملي تدارکاتو کمېســـيون د شاوخوا ۸ میلیارده افغانیو په ارزښت بېلابېلې پروژې منظورې کړې



د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ؛ ملي تدارکاتو کمېسيون د شاوخوا ۸ ميلياردو افغانيو په ارزښت د ۲۵ پروژو قراردادونه منظور کړل. د ملي تدارکاتو کمېسيون نوبتي غونډې ته چې د روان لمريز کال د کب مياشتې په اتمه نېټه په مرمرينه ماڼۍ کې جوړه شوې وه، له اجندا سره سم د ۳۱ پروژې د منظورۍ لپاره وړاندې شوې، چې له جملې يې د ۲۵ پروژو قراردادونه منظور، د پنځو پروژو قراردادونه لغوه او د يوې پروژې قرارداد بياځلې ازادې داوطلبۍ ته وړاندې شو.

په منظور شوو پروژو کې د غزني ولايت د ۱۰۰ بستريز روغتون د پاتې ساختماني چارو بشپړول، د بخش آباد بند د انحرافي تونلونو پاتې چارې تکميلدل، د کابل ښار د يوشمېر داخلي سړکونو بيارغونه، د کمال خان بند د دربېيمې برخې پاتې چارو بشپړول او يوشمېر نورې پروژې شاملې دي، چې په پلي کېدو سره به يې سلګونو هېوادوالو ته کاري فرصتونه برابر شي.


## د بهرنيو اسعارو بيې

د کابــــل په شهزاده ســرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنيو اسعارو د نن ورځې بيې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امريکايي ډالر | ۷۱,۱۰؋ | ۷۱,۲۰؋ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلدارې | ۲۴۵؋ | ۲۴۵؋ |
| ۱۰۰۰ | ايراني تومن | ۱,۲۹؋ | ۱,۲۹؋ |
| ۱ | اروپايي يورو | ۷۷,۱۳؋ | ۷۷,۲٤؋ |
| ۱ | روسی روبل | ۰.۷۸؋ | ۰.۷۸؋ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلدارې | ۸۵۸؋ | ۸۵۹؋ |
| ۱ | انگليسي پونډ | ۹۰,۰٤؋ | ۹۰,۱۷؋ |
| ۱ | سعودي ريال | ۱۸,۹٦؋ | ۱۸,۹۹؋ |
| ۱ | اماراتي درهم | ۱۹,۳٦؋ | ۱۹,۳۸؋ |
| ۱ | چيني ين | ۹,۸۸؋ | ۹,۸۹؋ |



# جلسهٔ نوبتی کمیتهٔ سرمایه گذاری بیـــن الوزارتی در قصر مرمرین برگزار گردید



در جلسهٔ نوبتی کمیتهٔ سرمایه گذاری بین الوزارتی که بتاریخ ۸ ماه حوت سال جاری در قصر مرمرین برگزار گردیده بود، طبق اجندا روی تعدادی از طرح های سرمایه گذاری ارائه شده از سوی سکتور خصوصی بحث شد.

به جلسه طرح سکتور خصوصی برای ایجاد خدمات تشخیصیه و مراکز لابراتواری معیاری در محوطهٔ شفاخانه های شهر جلال آباد و شیخ زاید کابل برای بحث ارائه شد. این طرح با در نظرداشت تعدیلات وارده از سوی کمیته سرمایه گذاری بین الوزارتی تایید و به شرکت ارائه کننده توصیه شد تا دیزاین و امور ساختمانی طرح یاد شده را در هماهنگی با وزارت شهرسازی و مسکن انجام دهد.

همچنان در این نشست طرح های تولید ۴۰ میگاوات برق افتابی در شهرک صنعتی شیخ مصری ننگرهار، اعمار ۹ مسلخ عصری و معیاری در ۹ ولایت و اعمار مارکیت تجارتی در چهارراهی بزازی شهر جلال آباد برای بحث ارائه شد. در جلسه پس از بحث همه جانبه، به کمیته های موظف وظیفه سپرده شد تا با در نظرداشت نظریات کمیته سرمایه گذاری بین الوزارتی با شرکت های ارائه دهنده طرح ها به منظور ارزیابی جوانب مالی، اقتصادی و تخنیکی طرح های مذکور نشست ها را برگزار و گزارش های خویش را به تاریخ تعیین شده به این کمیته ارائه نمایند.

# مشـــاور معاون اقتصادی ریاســـت الوزراء با نمایندگان اتاق اصناف ملاقات نمود

حاجی محمد ابراهیم حکمت مشاور معاون اقتصادی ریاست الوزراء با نمایندگان اتاق اصناف ملاقات نمود. در این ملاقات که به تاریخ ۷ حوت سال جاری خورشیدی در قصر مرمرین برگزار شده بود، نمایندگان وزارت های مالیه، صنعت و تجارت و شاروالی کابل نیز حضور داشتند. نمایندگان اتاق اصناف در مورد بررسی اسناد مالیاتی، صدور و تمدید جواز، نصب لوحه‌های تبلیغاتی صحبت و یک سلسله از مشکلات و پیشنهادات دیگر را به جلسه ارایه نمودند.

حاجی محمد ابراهیم حکمت مشاور معاون اقتصادی ریاست الوزراء در جریان سخنان خویش گفت که رهبری و مسئولین امارت اسلامی متوجه مشکلات ملت خویش هستند، برای رفاه هموطنان و رساندن هر بخش از کشور به خودکفایی تلاش های خستگی ناپذیر، شبانه روزی را انجام میدهند.

مشاور معاون اقتصادی ریاست الوزراء به نمایندگان اتاق اصناف اطمینان داد که در پرتو قانون به تمامی مشکلات و پیشنهادات آنان توسط ارگان های ذیربط به موقع رسیدگی خواهد شد.



# ۱۴۰۲ خورشیدی؛ دستاوردهای امارت اسلامی در سکتور بانکی



۱. ارائه خدمــــات بانکی در نقاط دور دست کشور؛
۲. بهبود در فعالیت های سکتور بانکی؛
۳. ترویج پول افغانی در سراســـر کشور؛
۴. افزایش ارزش افغانـــی در برابر اسعار خارجی؛
۵. چاپ بانکنوت های افغانی، عرضه آن به بـــازار و جمع‌آوری بانکنوت های مندرس؛
۶. ترویج بانکداری اسلامی؛
۷. پـرداخت تضمینـــات، طلبـــات و تامینـــات قبلی؛
۸. توسعه سیـــستم های تادیـــات و تکنالوژی معلوماتی؛
۹. کاهش انفلاسیون به حد مطلوب؛
۱۰. کاهش تدریجـــی محدودیت ها بالای امانت های مشتریان؛
۱۱. حل مشکل نقدینگی در بانک های خصوصی؛
۱۲. فعال شـــدن کمیسیون قروض صعب الحصول؛
۱۳. تدویـــن مقـــرره توســـط د افغانستان بانک برای نهاد های قرضه های کوچک؛
۱۴. اولویت بندی قضیه های مالی در محاکم؛
۱۵. توزیع حســـاب های معاشات کارمندان امارتی به بانک ها جهت تقویت آنها؛
۱۶. و جمع‌آوری عواید از طریق بانکها.

@FDPM_AFG

# د لاجـــوردو لارې اقتصـــادي ارزښت ته ځغلنده کتنه

لیکوال: امان‌الله حنیفي




## سریزه

واک ته د اسلامي امارت په رسېدو سره د افغانستان، ګاونډیو او سیمې هېوادونو اقتصادي، سوداګریزې او ترانزیټي اړیکې پراخې شوې دي او د ټولو هغو ستونزو پر له منځه وړلو په تدریج سره کار روان دی، چې د سوداګریزې ودې مخ کې خنډ ګرځېدلې دي. افغانستان په جغرافیوي لحاظ په وچه کې راګیر هېواد دی، چې بحر ته مستقیم لاسرسی نه لري، خو له بحر سره وصلېدل د افغانستان لپاره ستونزمن کار نه دی. افغانستان د خپلو ګاونډیو هېوادونو له لارې کولای شي چې د بحري ټرانسپورټ له ټرې سره ونښلي. د بحري ټرې له ترانسپورټ سره د نښلېدو یوه تر ټولو مهمه، اقتصادي او لنډه لار د لاجوردو ده. افغانستان کولای شي د دې لارې په واسطه د منځنۍ اسیا له هېوادونو په تېرېدو ترکیې او بیا له هغه لارې ازادو اوبو ته لاسرسی پیدا کړي. لاجوردو لار د افغانستان لپاره د سوداګریزې راکړې ورکړې او ترانزیټ یو تر ټولو مهم او غوره انتخاب دی، چې په استفادې سره به یې د هېواد په اقتصادي وده کې لوی بدلون رامنځته شي. دا چې څنګه به دغه بدلون رامنځته کېږي، موږ په همدې مقاله کې پرې خبرې کوو:

## د لاجوردو لار

لاجوردو لار د افغانستان لپاره د سوداګریزې راکړې ورکړې او ترانزیټ یو تر ټولو مهم او غوره انتخاب دی، چې په استفادې سره به یې د هېواد په اقتصادي وده کې لوی بدلون رامنځته شي. د لاجوردو لار د افغانستان د فاریاب او هرات ولایتونو د آقینې او تورغونډۍ بندرونو څخه پیلېږي او د ترکمنستان ترکمن باشي بندر ته چې کسپین بحیرې سره پروت دی، رسېږي او له کسپین څخه بیا اذربایجان او ګورجستان هېوادونو څخه توري بحیرې او له دې ځایه بیا د ترکیې له لارې ازادو اوبو سره نښلي چې افغانستان کولای شي په اسانۍ اروپایي هېوادونو ته لاره پیدا کړي. د دغه سوداګریزې او ترانزیټي لارې په اوږدو کې ټولې



ترانسپورټي زېربناوې لکه سړک او رېل پټلۍ په اساسي ډول جوړ شوي، چې بیاځلې جوړونې ته اړتیا نه لري. د دې لارې یوه تر ټولو مهمه نقطه هم دا ده چې جوړول یې وخت نه اخلي، ټول غځېدلی مسیر جوړ دی او یوازې یې د استفادې په خاطر د ښکېلو هېوادونو ترمنځ رسمي توافق اړین دی. څرنګه چې د لاجوردو لاره د وخت له مهمو او مواصلاتي لارو څخه شمېرل کېده، په اصل کې دا لاره د وربښمو د لارې یو مسیر او بیارغونه ده، چې لرغونتیا یې ۲۰۰۰ کاله ته رسېږي. له دې لارې څخه به لاجورد او ځینې نورې قیمتي ډبرې اروپا، روسیې، بالکان، قفقاز او د افریقا شمال ته لېږدول کېدې. د دې لارې لومړنۍ طرحه د وربښمو د تاریخي لارې د بدیل په توګه د افغانستان په نوښت وړاندې شوه چې له نیکه مرغه د سیمې د هېوادونو له تاوده هرکلي سره مخ شوه. د ۲۰۱۷م کال د نومبر په ۱۵مه د ریکا (اقتصادي همکاریو کنفرانس) په پای کې د پنځو هېوادونو افغانستان، ترکمنستان، اذربایجان، ګرجستان او ترکیې د بهرنیو چارو وزیرانو لخوا د ترکمنستان په عشق اباد ښار کې د دې لارې د استفادې ترون لاسلیک شو.




په افغانستان کې د لوی سیاسي تحول له رامنځته کېدو وروسته د سیمه‌ییز نښلون او له دې لارې د سیمه‌ییزو اقتصادي او سیاسي ګټو د خوندي کولو لپاره ډېر ښه فرصت برابر شو. له دې فرصت څخه په ګټې اخیستنې تازه د افغانستان او منځنۍ اسیا هېوادونو ترمنځ د لاجوردو تاریخي لارې د بیا فعالېدو په اړه بحثونه راپورته شوې او ټینګار شوی، چې دا لاره بېرته احیا شي. د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزیر امیرخان متقي ترکمنستان ته د خپل رسمي سفر په ترځ کې د دغه هېواد له چارواکو سره د نورو دوه اړخیزو اقتصادي او سوداګریزو مسایلو ترڅنګ د لاجوردو لارې پر استفادې هم خبرې کړې دي او ترکمن لوري هم

لېوالتيا ښودلې، چې د ګډونوالو هېوادونو د ټرانسپورټ او ګمرک برخو مسؤولين بايد کېنېني او د دې مهمې لارې د احيا پر لارو چارو هراړخيزې خبرې وکړي.

د دې لارې اصلي شريکان افغانستان، ترکمنستان، اذربايجان او ګورجستان هېوادونه دي، خو ترکيه هم غواړي چې په دې پروژه کې شريکه شي. ترکيه غواړي چې د ترکمنستان، اذربايجان، ګرجستان او جورجيا ترڅنګ ځان د منځنۍ اسيا نورو هېوادونو ته د لاجوردو له لارې ورسوي او هم د افغانستان له لارې له سويلي اسيا سره ځان ونښلوي، ځکه ترکيه پر دې سربېره د تورې بحيرې له لارې ځان له نورو اروپايي هېوادونو سره هم نښلولی شي، نو له دې امله ياده پروژه کې غواړي ځان شريک کړي، څو خپل تجارت ته لا وسعت او پراختيا ورکړي. افغانستان هم کولای شي له دې لارې لومړی له بحر سره ونښلي او بيا کولای شي له دې لارې خپله سوداګري پراخه او اقتصادي وده ګړندۍ کړي.




## د لاجوردو لارې اقتصادي ارزښت

په نړيوال اقتصادي سيستم کې د هېوادونو لپاره سوداګريزې لارې ستراتيژيک اهميت لري. د دې لارو په واسطه نه يوازې دا چې دوی خپلو توکو ته سوداګريز مارکېټ پيدا کوي او يا له دې لارو خپلې اړتياوې پوره کوي؛ بلکې د اقتصادي او سياسي نفوذ لپاره يې هم کاروي. سياسي او اقتصادي نفوذ بيا هغه وخت ډېر مهم او د هېوادونو اصلي مطلوب وي، چې يوه لار په يو وخت کې له څو هېوادونو څخه تېرېږي او د ثبات او کړکېچ په وخت کې د ټولو پر ګټو مستقيم او غير مستقيم اغېز کوي.

د لاجوردو لار له همدې لارو يوه ده. د دې لارې په واسطه د افغانستان، ترکمنستان، آذربايجان، ګورجستان او ترکيې اقتصادي او سياسي ګټې تړلې دي. له دې لارې په استفاده



سره سيمه ځانګړې سياسي – اقتصادي ارزښت پيدا کوي او د نړيوال تجارت پاملرنه راجلبوي. همدې ارزښت ته په کتو افغانستان غواړي ځان له منځنۍ اسيا هېوادونو، ترکيې او اروپا سره وصل کړي. څو پېړۍ پخوا له دې لارې لاجورد او ځينې نورې قيمتي ډبرې اروپا، روسيې، بالکان، قفقاز او د افريقا شمال ته ليږدول کېدې او کله چې دا تاريخي سوداګريزه لاره وېجاړه شوه، نو افغانستان ته ډېرې واردات د پاکستان د کراچۍ بندر له لارې کېدل، چې نسبتاً اوږده او غير مصئونه لاره بلل کېږي. د لاجوردو لار چې د کراچۍ له بندر پرته افغانستان له اروپا، منځني ختيځ، افريقا، بالکان او ترکيې سره نښلوي، د افغانستان سوداګرۍ لپاره تر ټولو لنډه، داومنه، ارزانه او خوندي لار ده. د لاجوردو له لارې د اروپا مارکېټونو ته د افغانستان توکي په ۱۶ ورځو کې رسېږي، په داسې حال کې چې دغه توکي له کراچۍ بندره اروپا ته له ډېرو ستونزو او ننګونو سره له ۲۰ ورځو ډېر وخت نيسي. د دې لارې په واسطه به نه يوازې دا چې د افغان سوداګرو توکي به په کم وخت او لږ لګښت سره چې د خرابېدو مخنيوی به يې هم شوی وي، د اروپا بازارونو ته ورسېږي؛ بلکې هلته به په ښه بيه هم وپلورل شي.

له دې لارې په ګټې اخيستنې سره د ځمکې له لارې اروپا ته د صادراتو د پراختيا ترڅنګ له ترکمنستان، آذربايجان، ګرجستان او ترکيې سره به د افغانستان سوداګريزې او ترانزيټي اړيکې پراخې شي. په ننۍ نړۍ کې هر هېواد په دې هڅه کې دی چې پر سياست سربېره په اقتصاد کې هم ځان په يوه لوري پورې ونه تړي؛ بلکې له څو لورو سره وصل او تړلی وي. په همدې موخه افغانستان کوښښ کوي چې له ګاونډيو او سيمې هېوادونو سره ښې سوداګريزې اړيکې ولري، چې ښه بېلګه يې په دې وروستيو کې د ايران له چابهار بندر د زياتې استفادې په موخه دغه هېواد ته د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند او په دې نږدې ورځو کې ترکمنستان ته د ګڼو نورو سياسي – اقتصادي مسايلو ترڅنګ د لاجوردو لارې د بيا احيا په موخه د اسلامي امارت د پلاوي سفر دی. هرڅومره چې افغانستان له ګاونډيو او سيمې هېوادونو سره پياوړې سوداګريزې اړيکې ولري، هومره به يې اقتصادي وده ګړندۍ، ملي ګټې به يې خوندي او د سيمې په سياسي- اقتصادي- امنيتي منشور کې به يې خپل ځای پيدا کړی وي. د لاجوردو لارې په بياځلې احيا کېدو سره به د افغانستان په سوداګريزو بندرونو کې بهرنۍ پانګونې ته زمينه برابره شي. افغانستان چې په شمال کې له منځنۍ اسيا هېوادونو سره پنځه سوداګريز بندرونه لري، تر اوسه په نړيوالو سوداګريز معيارونو نه دي برابر شوي او د لاجوردو لارې په احيا کېدو سره اړتيا ده چې دغه بندرونه په عصري ډول جوړ شي. د لاجوردو لارې په استفادې سره به بهرني پانګوال دلته پانګونه وکړي چې له مخې به يې په کلني ډول افغانستان ته په ميليونونو ډالر عوايد ولري.

## پایله

د سيمه‌ييز نښلون په برخه کې د لاجوردو لار د افغانستان لپاره ډېره مهمه او يوه لويه پروژه ده، چې په بيا احيا کېدو سره به يې سيمه‌ييز اقتصادي ثبات رامنځته شي. د دغه ثبات تر ټولو ډېره ګټه به افغانستان ته ورسېږي، ځکه افغانستان نړيوال بحري تجارت ته لاسرسی نه لري او همدا يې د سياسي – اقتصادي ودې د لوېدو تر ټولو مهم لامل دی.

افغانستان، ترکمنستان او آذربايجان، چې وچې پورې تړلي هېوادونه دي، د لاجوردو لارې په بيا احيا کېدو سره به يې همغږي ترمنځ زياته او په ټوله کې به دغه سيمه خپل اقتصادي اوج ته ورسېږي. نو اړتيا ده چې په دغه لار کې ښکېل هېوادونه هرڅومره ژر چې وي، ټول اړين پروسيجرونه اسانه، اساسي زېربناوې بشپړې، همغږي پياوړې او د دغه مهمې لارې د رسمي استفادې پرانيسته وکړي.